# د پښتو ژبې د ودې دپاره د جوړې شوې کمېټۍ سفارشات

(اداره)

د جولايۍ کال 2008 په شپاړسم تاريخ د شورو په ورځ باچا خان ريسرچ سنټر کښې يوه علمي مذاکره شوې وه. په دې مذاکره کښې چې کوم تجويزونه وړاندې کړې شوي وو، د هغې د سفارشاتو په شکل کښې د مرتب کولو دپاره هغه وخت يوه کمېټۍ ټاکلې شوې وه. چې د غړو په حېث پکښې

- ❖ پروفېسر داور خان داؤد
- ❖ ډاکټر يار محمد مغموم
- ❖ محترمه نګهت ياسمين
- ❖ روښان يوسفزے او
- ❖ ډاکټر پروېز مهجور

شامل وو.

د دې کمېټۍ غړو په درويشتمه جولايۍ 2008 خپله غونډه وکړه او سفارشات ئې مرتب کړل. په دې مذاکره کښې په ذکر شوي سرخط د خپلو خپلو رايو د وړاندې کولو په لړ کښې چې شريکو عالمانو او پوهانو کوم تجويزونه او سفارشونه په متفقه توګه وړاندې کړل د هغو ترتيب څۀ په دې ډول دے:

- ❖ پښتو ژبه دې تر پينځم جماعته پورې په سرکاري سکولونو کښې د تدريس ژبه وګرځولې شي. ورسره ورسره دې په پبلک سکولونو کښې هم د يو لازمي مضمون په توګه رائجه کړې شي.
- ❖ پښتو ژبه د مخکښې نه په سرکاري سکولونو کښې د تدريس ژبه ګرځولې شوې ده خو په اکثرو سکولونو کښې په دې عمل درآمد نۀ کېږي ځکه نو حکومت ته خواست کولے شي چې په دغې حکم دې عمل درآمد يقيني کړي.
- ❖ د پينځم جماعت نه پورته ټولو اعلٰي جماعتونو کښې دې پښتو د يو لازمي مضمون په ډول رائجه کړې شي بلکې د بېچلر ډګرۍ تر حده دې لازمي وګرځولې شي.
- ❖ په سکولونو کښې دې د پښتو د استاذانو مخصوص پوسټونه منظور کړے شي چې په هغو د پښتو ژبې او ادب په حواله باقاعده تربيت شوي استاذان وټاکلي شي.
- ❖ د حکومت په هائر سېکنډري سکولونو کښې د پښتو د ماهرو استاذانو Subject Specialist سخت کمے دے او هلکان په کافي شمېر کښې پښتو مضمون اخستل غواړي خو د پښتو ماهران استاذان نشته. ځنو سکولونو کښې د نورو مضامينو ماهران د قومي جذبې د لاندې

پښتو ښيي. خو اکثرو سکولونو کښې داسې نۀ کېږي. نو په دې وجه د دې علمي مذاکرې شريک غړي د حکومت نه مطالبه کوي چې په هائر سېکنډري سکولونو کښې دې د پښتو ژبې Subject Specialists منظوري ورکړي. کۀ چرې داسې ونۀ شو نو زمونږ هلکان به سخت مايوسه شو او دا مايوسي لرې کول به بيا ډېر ګران وي.

- ❖ په عام اولس کښې دې د پښتو ژبې په حقله شعور بېدار کړے شي. دې لړ کښې حکومت له پکار دي چې د موجوده پښتو مجلو او ورځپاڼو حوصله افزائي وکړي او د نورو ورځپاڼو او اخبارونو ايستو دپاره مېدان هوار کړي. د پرنټ مېډيا سره سره دې د پښتو په حواله د اليکټرانک مېډيا هم حوصله افزائي وکړې شي او په خصوصي توګه دې د «اباسين پښتو چېنل» زر تر زره شروع کولو انتظامات وکړے شي.
- ❖ په سرکاري رېډيو او ټي وي دې د پښتو ژبې دورانيه زياته کړې شي.
- ❖ د پښتون قام د علمي او فکري سطحې د وچتولو دپاره د سوشل سائنسز د ترجمو انتظام وکړے شي.
- ❖ د سندهي لېنګوج اتارټي او مقتدره قومي زبان (اردو) په شان دې د پښتو هم يوه لېنګوج اتارټي اداره قائمه کړې شي. چې هيئت ئې داسې وي:
- ❖ ډائرېکټر
- ❖ ريسرچ افسران
- ❖ د ترجمې ماهران
- ❖ د ژبې ماهران
- ❖ د نمائندګۍ په حواله د منتخبو اديبانو او د تعليم او ثقافت او اطلاعاتو د وزارت نمائندګي.
- ❖ لائبرېرين
- ❖ کلرېکل سټاف
- ❖ د لغاتو څانګه: په دې څانګه کښې به اکثر د ژبې ماهران او ورسره غوره محققين او اديبان هم شامل وي. د دوي کار به دا وي چې سوشل سائنسز، نېچرل سائنسز، طبي او ټکنيکل، قانوني او عدالتي اطلاعاتي او د دفتري اصطلاحاتو دپاره د پښتو اصطلاحات جوړ کړي. مطلب دا چې په انګرېزۍ يا نورو ژبو کښې چې کوم اصطلاحات دي د هغو پښتو نعم البدل جوړ کړے شي او وخت په وخت چې کوم نوي نوي اصطلاحات راځي د هغو پښتو نعم البدل اصطلاحات دې جوړوي.
- ❖ په دې کښې به د ترجمې څانګه هم وي چې پکښې به د ادب، فلسفې، مذهب او د نورو سوشل سائنسز او نېچرل سائنسز، پخوانو او جديدو اعلي کتابونو ترجمې کولې شي.
- ❖ په دې کښې به د تحقيقي او تخليقي ادب د ودې دپاره هم يوه څانګه وي چې پکښې به مختلف ريسرچ افسران کار کوي او ورسره به د بهرنو محققينو د تحقيق نه هم فائده پورته کولے شي.
- ❖ په دې کښې به د پبليکېشن يعني اشاعت څانګه هم وي چې د کتابونو د چاپولو ذمه واري به تر سره کوي.

- په دې کښې به يوه لويه کتب خانه وي چې د ملک دننه او بهرنو محققينو ته د تحقيق اسانتياګانې ورکړي.
- دغسې د کمپيوټر او ټائپ څانګه به هم ضروري وي چې د پښتو ژبې د پاره تکنيکي خدمات تر سره کړي.
- د دې ادارې يو لوئے مقصد دا هم دے چې دا به د يوې املا د جوړولو او رائج کولو قانوني اختيار لري. اليکټرانک او پرنټ ميډيا، اخبارونه، د تعليمي نصاب د تيارولو مختلفې ادارې تر دې چې د سائن بورډونو ليکونکي پېنټران به د دې ادارې د املا قانوني پابند وي او په خلاف ورزۍ به ئې د دوي خلاف قانوني قدم وچتولے شي.
- دې مذاکره کښې دا غوښتنه هم وشوه چې د سندهي ادبي بورډ په شان دې په سرکاري سطح يو پښتو ادبي بورډ هم جوړ کړے شي. د دوي کار به په تخليقي او تحقيقي سطح د شاعرانو اديبانو او محققينو سره وي. د دوي د اشاعت قابل تخليقات او کاوشونه به په سرکاري توګه چاپ کوي.
- د دې بورډ په کارونو کښې به يو کار د معذوره او غريبو شاعرانو اديبانو مالي مرسته کول هم وي. دوي به يوه مجله هم وباسي.
- دا غوښتنه هم وشوه چې د پښتون ثقافت او تهذيب د محفوظولو د پاره دې د سندهيالوجي په شان يوه لويه اداره هم جوړه کړې شي.




د طاهر اپريدي د افسانو نوے کتاب "د څو لفظونو لويه قصه" د کتابونو د هر لوئے دکان نه ترلاسه کېدے شي.

چا په وخت د زنکدن ووې مجنون ته
وخت اخر دے اوس په زړهٔ کښې ياد کړه خدائے

دهٔ وې زړهٔ مې د ليلىٰ د يادو ډک دے
پکښې نشته دے د نورو يادو ځائے

خوشحال خان خټک